عبدالباري جهاني

۲۰۱۹/۰۸/۱۵

# اعلیحضرت محمد نادرشاه

فصل اول

## مـقـدمـــــه

اعليحضرت محمدنادرشاه د سردارمحمديوسف خان زوی او د سردارغلام يحيی خان لمسی، د ۱۲۶۲هجري شمسي (۱۸۸۳) د حمل د مياشتي په يوويشتمه د هند په دېره دون کي زېږېدلی دی. خپلي زده کړي يې په هند کي بشپړي کړي او په ۱۹۰۱ ميلادي کال کي د امير حبيب الله خان په غوښتنه د خپل پلار سردارمحمد يوسف خان، کاکا سردارمحمدآصف خان او څلورو ورونو سردارمحمدهاشم خان، سردارشاه محمود خان، سردار شاه ولي خان او سردار محمدعزيز خان سره يو ځای کابل ته ستون سو. هيواد ته له رسېدلو سره سم يې په پوځ کي په خدمت کولو بنا وکړه او په ډېر لږ وخت کي د خپل شخصي لياقت، پوهي او استعداد په برکت د نايب سالاری او سپه سالاری درجو ته ورسېدی. سردارمحمدنادرخان د خپلي لومړنی ځوانی څخه د پوځي خدمت ترڅنګ له سياسي فعاليتونو سره مينه درلوده او د حزب جوانان افغان، چي شهزاده امان الله خان او د هيواد تکړه منورينو برخه پکښي درلوده، فعال غړی وو. محمد نادر خان په پوځي فعاليتونو او عملياتو کي دونه فعاله او فوق العاده برخه واخيستله چي په ډېر لږ وخت کي د ډګروالی رتبې ته ورسېدی او په ۱۹۱۲ کال کي د منګلو د بنوربښ د ځپلو څخه وروسته نايب سالار او په ۱۹۱۴ کال کي سپه سالار سو. نادرخان، که څه هم چي افغانستان ته د راتللو سره سم په پوځي او سياسي برخو کي فعال وو خو د ۱۹۱۹ کال د فبروري په مياشت کي، په لغمان کي، د اميرحبيب الله خان د وژل کېدلو څخه وروسته په سياسي ميدان کي ډېر زيات مطرح سو. شهرت يې ډېر ژر تر لندن، برلين او ماسکو پوري ورسېدی او دا اهميت يې په ۱۹۳۴ کال کي د کابل په ارګ کي تر ويشتل کېدلو او وژل کېدلو پوري وساتی.

محمد نادرخان د افغانستان په منور قشر کي چنداني ښه نوم نه لري او چي نوم يې اخيستل کېږي نو معمولا د غدار کلمه ورسره ملګرې وي. د دې يو علت دا دی چي وايی هغه د افغانستان له محبوب پاچا او د استقلال د ګټونکي اعليحضرت امان الله خان څخه قدرت غصب کړی دی. په داسي حال کي چي د اعليحضرت امان الله خان څخه قدرت حبيب الله کلکاني اخيستی وو او دا مسئله له نادرخان سره هيڅ اړه نه لري. اعليحضرت امان الله خان د ۱۹۲۹ کال د جنوري په مياشت کي له پاچهی څخه استعفی وکړه او قدرت يې خپل مشر ورور عنايت الله خان ته وسپاره او د هماغه کال د مې د مياشتي په وروستيو شپو ورځو کي په غزني کي د حبيب الله کلکاني او مخالفو غلجيو قبايلو د حملو په مقابل کي له ماتي وروسته، د زابل له لاري، له افغانستان څخه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ووت او ډېر ژر ایټالیې ته ولاړ. ډېر کسان داسې استدلال کوي چې محمد نادرخان له پښتنو قبایلو سره ژمنه کړې وه چې پاچهي د امیرامان الله خان لپاره نیسي، خو کله چې قدرت ته ورسېدی، نو پر خپله ژمنه پښېمان سو. ځکه یې نو ګواکي غداري وکړه. البته د بشر په سیاسي تاریخ کي هیڅ وخت داسې نه ده پېښه سوې چې یوه جنرال دې د توري په زور قدرت نیولی او په لوی لاس یې خپل حریف ته تسلیم کړی وي. هر ډول منطق چې دا خبره مني، سیاسي منطق او تاریخي سوابق یې نه مني.

مشهور لیکوال او ژورنالیسټ، عبدالحمید مبارز د محمدعلم فیاض د "جرګه های بزرګ افغانستان" د کتاب په حواله لیکي چې ځینو کسانو داسې آوازه خپره کړې وه چې ګواکي محمد نادرخان خلکو ته ویلي وه چې هغه د امان الله خان لپاره کار کوي. په داسې حال کي چې دا یوازي آوازه ده ځکه چې که محمد نادرخان دا ویلي وای نو د جنوبي قبایل، چې د امان الله خان د اصلاحاتو مخالف ول او له هغه سره جنګېدلي ول، په هیڅ صورت د نادرخان په ملاتړ نه درېدل. حضرت فضل عمر مجددي به، چې په غه وخت کي په بمبیي کي په تبعید کي ژوند کاوه، د محمد نادرخان شاته نه وای درېدلی او دغه راز به انګرېزانو، چې د روسانو سره د امان الله خان د اړیکو سره مخالف ول، محمد نادرخان ته اجازه نه وای ورکړې چې د هغوی په قلمرو کي تېر سي او د سقاو له زوی سره وجنګېږي. مبارز ص ۵۰

زموږ ډېر زیات لیکوالان او مورخین د نادرخان په باب ځکه منفي نظر لري چې وایي هغه د انګرېزانو په ملاتړ قدرت ته رسېدلی او حتی د هغوی لاسکوځی وو ځیني خو دونه افراط کوي چې وایي نادرخان ان د وړوکوالي څخه انګرېزانو روزلی، افغانستان ته لېږلی، په دولت کي لویو مقامونو ته رسولی، د امیرامان الله خان په مقابل کي د حبیب الله کلکاني تر بري وروسته یې بیرته صحنې ته رابللی او قدرت ته رسولی دی. حتی مرحوم غبار خو په خوست، لوګر او مشرقي کي، د وطن د نجات په جنګونو کي، د نادرخان، شاه ولي خان او سردارمحمدهاشم خان د قواوو پرله پسې ماتي او شکستونه هم د انګرېزانو دسیسې او پلانونه بولي او په دې عقیده دی چې انګرېزان یوه وروستي فرصت ته منتظر ول. غبار ص ۱۵ د دې مورخینو په نظر، افغانستان د انګرېزانو لپاره د سطرنج تخته وه او چې هر ډول یې زړه غوښت هغسې لوبه یې کوله. سړی له دوی څخه پوښتنه وکړي چې که انګرېزانو د افغانستان په سرنوشت کي دونه عمده او قاطع رول درلودی نو اعلیحضرت امان الله خان څرنګه قدرت ته ورڅخه ورسېدی، څرنګه یې استقلال ورڅخه واخیست او څرنګه یې لس کاله خپل قدرت او له انګرېز سره دښمنی ته دوام ورکړ؟ ځیني دغه منورین په دې عقیده دي، او حتی ما پخپله ورڅخه اورېدلي دي، چې انګرېزانو، د استقلال په جنګ کي، تل او وانه پوځي مرکزونه قصداً نادرخان ته خوشي کړل؛ څو له هغه څخه قهرمان جوړ کړي او په راتلونکو پېښو کي، په لازم فرصت کي، کار ورڅخه واخلي. دوی حتی استدلال کوي چې انګرېزانو کولای سوای اعلیحضرت امان الله خان د محمد نادر خان په وسیله را وپرزوی، مګر څرنګه چې امان الله خان په اولس کي محبوبیت درلود او په هغه صورت کي به نادرخان د خپلو خلکو له قهر اوغوسي سره مخامخ سوی وای ځکه یې نو یوځل امان الله خان د بچه سقاو په واسطه، چې هغه هم د دوی خپل سړی وو، را وپرزاوه او په هیواد کي یې بې قانوني او بې امني پیل کړه او بیا یې نو وروسته د سقاو زوی ته په نادرخان ماته ورکړه. که خبره داسې وي نو موږ د استقلال په ګټلو ولي افتخار کوو؟ ځکه چې دا ټولي پېښې انګرېزانو مخکي له مخکي سنجولي او نقشي یې د خپلو غوښتنو سره سمې عملي کړي دي. په زړه پوري خبره دا ده چې انګرېزانو دا کار ولي وختي نه کاوه چې پوره لس کاله یې خپل دښمن د کابل پر تخت پرې ایښی وو. او هغه پوره لس کاله د صوبه سرحد په پښتني قبایلو او د هند په خاوره کي د انګرېزي استعمار پر ضد لمسوني کولې.

بله خبره دا ده چې که نادرخان د انګرېزانو په ملاتړ، چې چنداني ثبوت او سند یې هم نسته، قدرت ته رسېدلی وي نو هغه په خپله لنډه څلور کلنه دوره کي له انګرېزانو سره کوم داسې تړون لاسلیک کړ چې هغه یا د افغانستان د خاوري تمامیت او استقلال ته خطر پېښ کړی او یا یې لرترلره افغانستان ته اقتصادي او سیاسي تاوان رسولی وي.

د ۱۹۴۰ په لسیزه کي، په کابل کي د برتانیي سفیر" فریزر ټیټلر" په خپل کتاب افغانستان کي، له برتانیي سره د نادرخان د څرګندي دښمنی د سابقي په باب لیکي « د ۱۹۳۰ کال د جون په میاشت کي، نادرخان د برتانیي سفیر ته وویل چي د سرحد په برخه کي د افغانستان د حکومت د پالیسی اساس د پولي پر دواړو خواوو باندي د سولي ټینګېدل او د برتانیي د پاچا له حکومت سره رېښتوني دوستي ده. دا ډېري خوږي خبري وي، مګر خو یوازي کلمات وه او بله هیڅ معنی یي نه درلوده. په هند کي ډېری په دې عقیده وه چي د پړانګ لپاره د خپل پوست د رنګ بدلول غیر ممکن دي. نادرشاه د سرحد د پالیسی په برخه کي د برتانیي ضد وو. خپل دښمنان یي د برتانیي په دوستی تورنول او د ژوند تر پایه پوري د برتانیي دښمن پاته سو. د دې ادعا د ثبوت لپاره شواهد کم نه ول » فریزر ټیټلر ص ۲۳۵

بل ځای لیکي: « د ۱۹۳۱ کال په پای کي په صوبه سرحد کي داسي آوازې خپرې سوې چي نادرشاه له برتانیي څخه وسلي او پیسي تر لاسه کړي دي. په دې توګه هغه برتانیي ته په ګټه رسولو او چاپلوسي کولو تورن سو. پر هغه باندي دا احمقانه او غیر عادلانه تور ډېر ژر په صوبه سرحد کي خپور سو او د امان الله طرفدارانو د هغه پر ضد د پروپاګند د اصلي وسلي په توګه کار واخیست » هغه کتاب ص ۲۳۶

شوروي منابع، چي چنداني له نادرخان څخه ښه زړه نه لري، بیا هم هغه د انګرېزانو دښمن او مخالف بولي او وایي چي مولوی عبیدالله سیندهي د سپه سالار محمدنادرخان سره، چي په صوبه سرحد کي د برتانیي پر ضد د پښتني قبایلو د مبارزو طرفدار وو، نیژدې اړیکي لرلې. نادرخان د پولي د قبایلو په مشرانو کي ډېر زیات نفوذ درلود او د هند او افغانستان په پولو کي په اوضاع ډېر ښه پوهېدی. تیخانوف ص ۱۲۲

تیخانوف لیکي چي سپه سالار نادرخان د برتانوي هند د پښتنو سره په خپلو ټولو امکاناتو مرستي وکړې. هغه په دې باور وو چي د آزادو قبایلو پښتانه د انګرېزانو د بل یرغل په مقابل کي د یوه ټینګ دېوال حیثیت لري. په کابل کي د انګلستان سفیر همفریس څکه په دې عقیده وو چي د افغانستان حکومت ښایي ډېر ژر د ۱۹۲۱ کال تړون لغو کړي. هغه کتاب ۱۶۰

په کابل کي د شوروی اتحاد سفیر راسکلینکوف، خارجه وزیر چیچیرین ته په یوه لیک کي وایي چي د اولسي جرګي ریس شېر احمد خان، چي د انګرېزانو طرفدار دی په مجلس کي د برتانیي سره د افغانستان د دفاعي تړون د لاسلیک کېدلو ملاتړ وکړ او د حربیي وزیر محمد نادر خان د هغه د وینا په مقابل کي سخت عکس العمل وښود. هغه وویل چي برتانیه د لومړي نړی وال جنګ، او په هند کي د ناکراریو له امله اوس هغه پخوانی زور نه لري چي بیا به له افغانستان سره جنګ وکړای سي. افغانستان له برتانیي سره د دفاعي تړون د لاسلیک کولو له امله نه یوازي خپل استقلال له لاسه ورکوي بلکه د اسلام له ګټو سره خیانت کوي؛ او د خپل حق تر لاسه کول ځندوي. نادرخان وویل یوازینی لاره چي د ده په نظر معقوله ښکاري هغه د برتانیي د پیشنهادونو ردول او له روسیي سره د قرارداد منظورول دي. هغه کتاب ص ۵۹۹

یو مهم ټکی چي موږ یي باید په نظر کي ولرو هغه دا دی چي د نادرخان نظام د امان الله خان پر ځای نه دی راغلی چي موږ یي یو له بله سره مقایسه کوو، بلکه د سقاوي نظام د وحشت او بربریت پر ځای، چي له نېکه مرغه د تاریخ لیکونکو او ژورنالیستانو د سترګو لیدلي حالات په لیکلي او چاپي بڼه موجود دي، منځته راغلی دی. دا وخت، اعلیحضرت امان الله خان له ملکه وتلی او ایتالیي ته رسېدلی دی؛ والی علی احمدخان، چي د تخت د نیولو بل مدعي وو، د سقاوي رژیم له خوا اعدام سوی دی؛ غلام نبي خان چرخي، د خپلو ورسره شوروي پوځونو سره بیرته د آمو تر سیند اوښتی او د شوروي اتحاد خاوري ته ننوتلی دی او د سقاوي رژیم په مقابل کي یوازي نادرخان پاته دی. که نادرخان هم میدان پرې ایښی او ماته یي کړې وای نو، د سقاوي رژیم وحشت ته په کتلو سره، موږ د افغانستان د سرنوشت او تاریخ په باب تصور کولای سو .

په دې کې شک نسته چې نادرخان یو مستبد سړی وو او د خپلو سیاسی رقیبانو په ځپلو کې یې له زبردستی څخه کار واخیست او د هغه ورور سردار هاشم خان استبداد ته نور هم زور او دوام ورکړ او څوارلس کاله یې په بشپړه زبردستي حکومت وچلاوه؛ خو موږ باید دونه انصاف ولرو چې یو ځل د اعلیحضرت امان الله خان څخه مخکې د امیرحبیب الله خان او د هغه د پلار امیر عبدالرحمن خان استبداد او ظلمونه وګورو، بیا د اعلیحضرت امان الله خان له سقوط څخه وروسته د سقاوي نظام وحشت او بربریت په باره کې د مورخینو او ژورنالیستانو د سترګو لیدلي حالات تر نظر تېرکړو، بیا نو د شهید داوود خان له سقوط څخه وروسته د خلقیانو، پرچمیانو، مجاهدینو، طالبانو حکومتونه او، د امریکا او ناټو ترمستقیمي حمایې لاندې، اوسنی نظام را په زړه کړو. په دوی کې کوم یو د استبداد، بې قانونیو، وحشت، تېریو، بې امنیتیو او اداري فساد له پلوه د اعلیحضرت نادرشاه له زماني سره مقایسه کولای سو؟ که د پردیو تر مستقیمي اغېزې لاندې حکومت کول او د خپلو اولسونو ګټې تر پردیو قربانول، چې د نادرخان په باره کې یې لرترلره یو مثال هم نه دی موجود، عیب او ملي خیانت وي نو دا وروستي نظامونه یې، هر یو، جلا جلا، ښه مثالونه دي. دا نظامونه به موږ ته دښمنو ګاونډیانو اوبهرنیانو راجوړکړي وي خو عاملین یې زموږ خپل وطنوال دي .

ځینو لیکوالانو او مورخینو خو د نادرشاه په باب له دونه تنګ نظرۍ او تعصب څخه کار اخیستی دی چې د خپلو کتابونو یو مخ یې له بل سره ضد او مخالف وي. فرهنګ خو دونه افراط کوي چې د نادرشاه په مقابل کې د سقاوي رژیم صفت کوي. په داسې حال کې چې د سقاوي نظام بې امنیتی به یې په خپلو سترګو لیدلي وي.فرهنګ لیکي چې د نادرخان سره قبایلي خلک کابل ته داخل سول او په چور او تالان یې پیل وکړ خو د کابل خلکو چې څو میاشتي مخکې یې کابل ته د سقاویانو د ننوتلو په وخت کې د هغوی نظم ونسق او د خلکو پر شته منیو باندي له تېري کولو څخه پرهېز لیدلی وو، نو له نوي نظام څخه یې ښه انتباه وانه خیستله. فرهنګ ص ۶۰۲

همدغه لیکوال څو پاڼي مخکې، چې ښایي وروسته به یې خپله لیکنه هېره وه، د سقاو او د هغه د نظام د چور او چپاو، بې عدالیتو او بې امنیو په باب لیکي«دې ټکي ته باید توجه وسي چې یوه ډله خلک یې په حق یا ناحقه، او په هر حال کې، له تحقیق او شرعي محاکمې پرته اعدام کړل او وې نه غوښتل یا یې نه سو کولای چې د خپلو یارانو او انډیوالانو د ستمګریو مخه ونیسي، بلکه برعکس، هغوی ته یې اجازه ورکړه چې د خلکو پر سر اومال باندې په خلاصو لاسونو تېری وکړي. خپلو همکارانو ته یې د کرنیل خومختار او جرنیل خومختار خندونکي القاب ورکړل او خپل حکومت یې د خلکو مسخره کړ...» هغه کتاب ص ۵۹۶

## نادرخان د سیاست په میدان کې:

امیرحبیب الله خان د ۱۹۱۹ کال د فبروري پر شلمه د لغمان د کله ګوش په علاقه کې، چې د هغه د ښکار او سات تېري سیمه وه، په نیمه شپه کې، په خپله خېمه کې ووژل سو. دا چې امیر د خپل پوځ او محافظینو په منځ کې ووژل سو او قاتل مع‌لوم نه سو، څرګنده خبره ده چې د دربار تر ټولو عالي رتبه مقاماتو د هغه په وژلو کې لاس درلود. حتی مشهور مورخ فیض محمد کاتب، چې په هغه وخت کې حاضر وو، لیکي چې د امیر کشر ورور نایب السلطنه سردارنصرالله خان، په لوی لاس، خپل پوځیان او پولیس د قاتل له تعقیبولو او نیولو څخه منع کړل. سپه سالار محمدنادر خان او د هغه وروڼه ټول حاضر ول او فیض محمد کاتب لیکي چې عسکرو غوښتل هغوی د امیر د قتلېدلو له امله ووژني، خو د امیر مشر زوی معین السلطنه سردار عنایت الله خان د عسکرو مخنیوی وکړ. سپه سالار محمد نادرخان او د هغه وروڼه کابل ته بندیان راوستل سول او ډېر ژر بیرته خوشي سول. سردارنصرالله خان، چې په جلال آباد کې یې ځان پاچا اعلان کړی وو، لږ وخت وروسته د ارګ په بندیخانه کې ساه ورکړه او جګړن علی شاه رضا، چې ویل کېږي د امیر د قتل په شپه، نوکریوال وو، په وظیفه کې د غفلت او د امیر په قتل کې د لاس لرلو په ګناه اعدام سو. د امیر قاتل او د قتلولو محرک، په دقیق ډول، تر اوسه هم معلوم نه دی؛ حتی د قتل د علت په باب یې هم د نظر اتفاق نه دی موجود.

اعلیحضرت امان الله خان، چي د تنکی ځوانی څخه يي له انګرېزانو سره مخالفت د نفرت سرحد ته رسېدلی وو، ډېر ژر له برتانيي څخه د خپلواکی اعلان وکړ او د مشرقي، پکتيا او کندهار په جبهو کي يې د انګرېزانو پر پولو او قواوو باندي يرغلونه پيل کړل. برتانوي مورخين د اپرېل د يوولسمي او دوولسمي د پنجاب د خونړيو پېښو، چي هم په ښارونو کي دننه بلواوي سوي او هم پر حکومتي تاسيساتو باندي حملي وسوې، او په کابل کي د هند د خپلواکی لپاره د موقتي حکومت د مشرانو تر منځ د ارتباط احتمال ته اشاره کوي. په دغه وخت کي جنرال ريکس ډاير، چي وروسته د تل په جنګ کي د نادرخان سره مخامخ سو، په امرتسر کي وو او د جليان واله په باغ کي يې پر بې دفاع خلکو باندي په بې خبره ډزو کي ۳۷۹ تنه مړه او ۱۵۰۰ تنه زخميان کړل. د هغه د دغه بېرحمانه حملو سره د پنجاب ښورښونه، چي فکر کېدی د ډهلي د ۱۸۵۷ کال د پاڅون په ډول به زور واخلي، کرار سول. سوينسن ص ص ۲۷۰-۲۷۱

د کابل د موقتي حکومت مشرانو، مولوی عبيالله سيندهي، مولوی برکت الله او راجا مهيندرا پراتاپ په پېښور کي د افغانستان د پوسټ او ټلګراف له مامورغلام حيدر سره، چي انګرېز مورخ سوينسن يي نوم عبدالوادي ليکي، او په پېښور کي د هندوانو او مسلمانانو د يوې متحدی کمېټي مشر وو، په تماس کي ول. افغان مامور د کابل حکومت ته ليکلي ول چي په ټول هند کي د برتانيي د حکومت پر ضد پاڅون روان دی او که د افغانستان له لوري پر برتانوي هند باندي حمله کېږي نو هندو او مسلمان به ټول د برتانوي استعمار پر ضد ودرېږي. خو د افغانستان د پوسټ مامور د مي پر اوومه د برتانيي يوه جاسوس ته، چي د غلام حيدر په کمېټه کي يې نفوذ کړی وو، پر برتانوي هند باندي د امان الله خان د حملي په باب معلومات ورکړي ول او هغه ته يي ويلي وه چي د افغانستان پاچا د مي پر پنځه لسمه پر خيبر، کرم او کويټه باندي، په يوه وخت کي د حملو خيال لري. د صوبه سرحد د ايالت سر کميشنر سر جورج کيپل سمدستي د پېښور ښار محاصره کړ. په ښار کي دننه فعالين يي ، د افغانستان د مامور په شمول، ټول ونيول. د هغه په کور کي يو لک نغدي روپۍ او زيات شمېر شبنامي او تبليغي پاڼي تر لاسه سوې. په يوه پاڼه کي ليکل سوي وه چي په امرتسر کي سيکهانو د برتانوي جنرال حکم نه وو منلی او د توپکو خولي يي  پر انګرېزانو را اړولي وې. يو ليک  غلام حيدرامان الله خان ته ليکلی وو او په هغه کي راغلي وه چي د  سيکهانو عسکري قطعو هغه ته اطمينان ورکړی دی چي پر برتانوي هند باندي د افغانستان د حملي په صورت کي به د افغانستان پر عسکرو ډزي ونه کړي. يو ليک لا د خارجه وزير محمود طرزي وو، چي په سيمله کي يې د خپل استازي په نوم ليکلی او له هغه څخه يي غوښتي وه چي د امان الله خان لپاره د هندانو او مسلمانانو څخه بيعتونه واخلي او هغوی ته ووايي چي موږ د هنديانو په غم شريک يو او د هغوی ملاتړ کوو. هغه کتاب  ص ص ۲۷۰-۲۷۱

 که له يوې خوا د امرتسر پاڅون لړترلړه شل ورځي ځنډېدلی او د برتانوي هند سره د افغانستاتن د جنګ له پيل سره برابر سوی او مخکي له مخکي ځپل سوی نه وای او له بلي خوا په پېښور کي د افغانستان د مامور ليکونه او رازونه برالا سوي نه وای نو ښايي د جنګ نتيجه بېخي بل راز سوې وای. خو امان الله خان د مي د څوارلسمي لپاره تياری کړی وو او په دونه لويه نقشه کي سمدستي تغيير راوستل ممکن نه وو. د جنګ  په دريو واړو جبهو کي يوازي سپه سالار محمدنادرخان توره وکړه او د انګرېزانو څخه يي د تل او وانه ښارګوټي او پوځي مرکزونه ونيول. او شاه محمود خان، چي په همدغه جبهه کي جنګېدی، له انګرېزانو څخه د پيوار کوتل ونيوی.

که څه هم چي انګرېزانو د جنګ په ختيځه جبهه يعني پر خيبر باندي د جنرال صالح محمدخان د حملي مخه ونيوله خو د جنوبي په جبهه کي د نادرخان حملو يو ډول ناڅاپي شکل درلود او قومي ملېشو، لکه څرنګه چي انګرېزي جنرالانو يي پخوا پيش بيني کړي وه، په جنګ کي نه يوازي توره ونه کړه بلکه زياتر د نادرخان ملګري سول او د تل پر ښارګوټي او پوځي مرکز يي د حملي او پوځي عملياتو لاره ورته هواره کړه. نادرخان د مي تر نهه ويشتمي پوري د انګرېزانو په خاوره کي دونه پرمختګ وکړ چي هغوی پر جلاتل اباد باندي د خپلي پلان کړي حملي څخه تېر سول او خپلي قواوي يي د تل او کورم جبهي ته متوجه

کړي. انګرېزان ځکه وارخطا سول چي د تل د جبهې په شاوخوا کي يې دونه قواوي چي د نادرخان سره دي مقابله وکړي نه درلودلې. انګرېزانو په ډېر تلوار د تل د جبهې د عملياتو وظيفه تورن جنرال ډاير ته، چي څه باندي يوه مياشت مخکي يې په امرتسر کي بې دفاع خلک قتل عام کړي ول، وسپارل. جنرال ډاير د مې د مياشتي پر نهه ويشتمه ځان د تل سيمي ته ورساوه او په دغه وخت کي له نادرخان سره د ځدرانو د قبيلې مشر ببرک خان هم ملګرى سو، او د کورم د رود په جنوب کي يې خپل قوتونه واچول.

له ببرک خان سره قومي ځوانان، چي زياترو يې ټوپک نه درلودل، ملګري ول او يو ناڅاپه د جنرال ډاير د توپچي قواوو د ګوليو له سخت باران سره مخامخ سول. د ببرک خان قواوو ته په هغه جنګ کي دونه تلفات ورسېدل چي خپل مړي يې د جنګ له ميدان څخه وړلای نه سول او په شا تګ ته مجبور سول. په همدغه وخت کي د انګرېزانو بمب غورځونکو الوتکو پر جلال اباد او کابل باندي بمباري وکړل. د افغانستان خلک او عسکر د هوايي جګړې سره هيڅ بلد نه ول او اکثريت خلکو الوتکه بېخي ليدلې نه وه. په هر صورت د مې پر يودېرشمه سهاروختي، چي نادرخان به د بلې حملې لپاره تيارى کاوه، سپه سالار ته د کابل څخه خبر ورسېدى چي حکومت انګرېزانو ته د اوربند پېشنهاد کړى دى او جنګ بايد ختم سو. نادرخان د کابل پيغام سمدستي جنرال ډاير ته واستاوه او هغه هم يوه ورځ وروسته جنګي عمليات بند کړل. سوينسن ص ص ۲۷۹-۲۸۱

سپه سالار د، مې پر يودېرشمه، د اوربند تر اعلانېدلو پوري د انګرېزانو په خاوره کي پاته سو او کابل ته فاتح راستون سو. سردار محمد نادرخان د استقلال د جنګ د ختمېدلو څخه وروسته، د خپلو خدماتو او په جنګ کي د زړه ورتيا او تدبير ښودلو په بدل کي، سمدستي د وزير حربيه په حيث وټاکل سو.

اعليحضرت امان الله خان د هيواد له ترقى سره د لېوني ميني درلودلو په اساس ډېر ژر په هره ساحه کي په انقلابي اصلاحاتو لاس پوري کړ. اصلاحاتو ډېر خلک خوشاله او ډېر خلک د وسله وال عکس العمل ښودلو تر پولي خوابدي کړل. په دې ضمن کي د خوست ښورښ، چي زيات وکم لس مياشتي(د۱۹۲۴کال د مارچ له نيمايي څخه تر ۱۹۲۵ کال د جنوري تر وروستيو شپو ورځو پوري) يې دوام وکړ اودولت او خلکو ته يې د سر اومال ډېر دروند تاوان ورساوه د يادوني وړ دى. دا ښورښ د ملاعبدالله، چي په دولتي مطبوعاتو کي ملاى لنګ بلل کېدى، او دهغه ملګري ملا عبدالرشيد پيل او ښورښ هغه وخت خطرناک زور واخيست چي د امير محمديعقوب خان زوى عبدالکريم له برتانوي هند څخه افغانستان ته ننووت او دښورښيانو سره ملګرى سو .

د پوځ ډېرو زياتو افسرانو ځکه د دې ښورښ په ځپلو کي برخي اخيستلو ته زړونه نه ښه کول چي ډېر زيات عسکر د جنوبي د خلکو اولادونه ول. سپه سالار نادرخان، چي له لومړي سره د اعليحضرت امان الله د اصلاحاتو له سرعت سره مخالف وو، د خوست د ښورښ د ځپلو د عملياتو قوماندانى ونه منله او په عوض کي يې په پاريس کي د افغانستان سفارت، چي يو ډول تبعيد بلل کېدى، ومانه. تيخانوف ص ۱۶۸

په زړه پوري خبره دا ده چي د دې ښورښ په ځپلو کي دواړو دښمنو قدرتونو، شوروى اتحاد او برتانيې، د افغانستان له حکومت سره مالي او پوځي مرستي وکړې. د ۱۹۲۵ کال د مې پرپنځه ويشتمه ستالين، تروتسکي او چيچيرين د کمونيسټ ګوند د مرکزي کمېټې سياسى دفتر ته پېشنهاد وکړ چي افغانستان ته سمدستي دوه سوه پنځوس زره روبله ولېږي. دغه راز د همدغه کال د آګسټ په مياشت کي د شوروي خارجه وزير پېشنهاد وکړ چي افغانستان ته پنځه زره ميله توپکونه او مرمى، له پنځوس څخه تر سلو پوري ماشيندار او درې د راډيو دستګاه وي ولېږي او هغه هيواد ته دې د جنګي الوتکو د لېږلو پروګرام چټک کړي او دغه راز دې شوروي پيلوټان ور ولېږل سي. هغه کتاب ص ۱۷۳

د همدغه کال د اګسټ په مياشت کي برتانيې افغانستان ته دوې جنګي الوتکې ورکړې او ښورښيانو ته يې درانه تلفات ورسول. هغه کتاب ص ۱۷۴

د خوست د ښورښ ځپل کېدل، چي ډېر زيات وخت يې ونيوی، د دولت او خلکو دواړو لپاره ډېر گران تمام سو. ياغيانو ته ډېر زيات مالي او ځاني تلفات ورسېدل. تقريبا درې زره پنځه سوه کورونه تباه او وسوځول سول؛ پنځه لس سوه پنځه اويا ياغيان مړه او ټپيان سول؛ او څلوره سوه پنځوس ښځي او ماشومان له يخنيه او لوږي تلف سول. د حکومتي قواوو ځاني تلفات هم تر دې کم نه ول. په دې ښورښ کي دولت ته پنځه ميليونه سټرلينګ پونډه، چي د افغانستان دوه کلن ملی عايد کېدی، تاوان ورسېدی. گريگوريان ص ۲۵۵

يو شی چي د خوست د ښورښ په ځپل کېدلو کي يې د افغانستان له حکومت سره ډېره مرسته وکړه او ياغيان يې تر اندازې زيات تجريد او د خلکو په نظر کي سپک کړل هغه د حکومت دا تبليغ وو چي د خوست په ښورښ کي انگرېزان مستقيمه برخه لري. سنځل نويد په خپل کتاب کي د انگلستان د آرشيفونو په حواله ليکي چي پخپله انگرېزان هم په دې نه پوهېدل چي عبدالکريم ته مالي او پوځي مرستي له کومه رسېږي. د افغانستان حکومت هم له دې درکه سخت مايوس وو چي د خوست په ښورښ کي يې د انگرېزانو د لاس لرلو په باب هيڅ سند او مدرک تر لاسه کولای نه سو. دا خبره پخپله محمودطرزي په پېښور کي د انگرېزانو يوه عالي رتبه مامور ته کړې وه؛ شېراحمدخان، چي د محمودطرزي په غياب کي يې د خارجه وزارت چاري پر مخ بېولي، په کابل کي د انگرېزانو د سفارت شارژدافير مکوناچي ته اعتراف کړی وو چي د افغانستان حکومت د خوست په ښورښ کي د انگرېزانو د برخي درلودلو په باب هيڅ مدرک په لاس کي نه لري. هغه په دې ملاقات کي پر دې خبري اعتراف کړی دی چي د افغانستان حکومت د خوست په ښورښ کي د انگرېزانو د لاس لرلو موضوع د عبدالکريم او ملاعبدالله د تجريدولو او بدنامولو په خاطر راپورته کړې وه. شېراحمدخان مکوناچي ته اطمينان ورکړی وو چي د خوست د ښورښ د کرارېدلو څخه وروسته به ډېر ژر اعلان وکړي چي افغانستان د خوست په ښورښ کي د انگلستان د لاس لرلو په باب هيڅ مدرک او سند تر لاسه کړی نه دی.سنځل نويد ص ص ۱۴۷-۱۴۸

آدمک وايي چي امان الله خان د خوست د ښورښ د ځپل کېدلو څخه وروسته ۵۳ تنه اعدام کړل او نور يې په شاقه بند محکوم کړل او بېلو بېلو ولاياتو ته يې واستول. ص ۹۹ مگر شوروي منابع وايي چي يوازي په کابل کي تقريبا سل تنه اعدام سول او په کابل او نورو سيمو کي د ښورښ د مشرانو تعقيب او آزار پيل سو. تيخانوف ص ۱۷۶

اعليحضرت امان الله خان، د خوست د ښورښ د ځپلو څخه وروسته، دې حقيقت ته ښه متوجه سو چي د خپلو اصلاحاتو د پروگرام د عملي کولو لپاره تکړه او منظم پوځ او عصري وسلو ته اړتيا لري. د شوروي اتحاد مشران، چي د انگرېزانو په مقابل کي د امان الله خان د دريځ ملاتړي ول، هم دې حقيقت ته متوجه ول او د ښورښ څخه وروسته يې سمدستي فيصله وکړه چي له افغانستان سره خپلي پوځي او مالي مرستي زياتي کړي. د کمونيسټ گوند د افغانستان په باب په خپله خاصه غونډه کي د پوځي او سمندري چارو کميسار فرونزې ته وظيفه ورکړه چي د افغانستان چاري وڅېړي. د فرونزې او خارجه وزير چيچرين د توصيې په اساس د کمونيسټ گوند سياسي دفتر د ۱۹۲۵ کال د مارچ پر شپږ ويشتمه فيصله وکړه چي پر افغانستان باندي شپږ جنگي الوتکي وپلوري او ۲۵۰ زره روبله مرسته ورسره وکړي او دغه راز د پنځو سوو زرو روبلو په ارزښت وسلي او مهمات په ارزانه بيه ورباندي خرڅ کړي.

د ۱۹۲۵ کال په نيمايي کي امان الله خان له شوروي اتحاد څخه د نورو پوځي مرستو غوښتنه وکړه او د شوروي کمونيسټ گوند د هماغه کال د سپټمبر په مباشت کي فيصله وکړه چي له افغانستان سره په کال کي ار يو ميليون روبله زياته پوځي مرسته وسي. شوروی اتحاد دغه راز فيصله وکړه چي د افغانستان د پيلوټانو د روزلو لپاره زمينه برابره کړي. امان الله خان له شوروي اتحاد څخه پنځوس زره توپک او يو ميليون مرمی واخيستلي او شوروي اتحاد په خپلو کارخانو کي د افغانستان پنځه لس زره له کاره لوېدلي او خراب سوي توپکونه ترميم کړل .

شوروي اتحاد له افغانستان سره خپلو پوځي مرستو ته دوام ورکړ او د کمونیستې ګوند سیاسي دفتر د ۱۹۲۷ کال په پسرلي کې فیصله وکړه چې افغانستان ته په همدغه کال کې، په عاجلاه توګه، د دریو میلیونو په اندازه وسلې او مهمات په وړیاتوګه واستوي او د یومیلیون روبلو په اندازه پوځي مهمات وربانديې وپلورې. تیخانوف ص ص ۱۹۳-۹۶

امان الله خان د پوځي چارو هري برخي ته توجه زیاته کړه او په هغه چټکي یې د اصلاحاتو پروګرام هم عملي کاوه.

که څه هم چي شوروي منابع د حربیې له وزارت څخه د نادرخان د برطرفه کېدلو علت د خوست په بشورش کې د برخي اخیستلو څخه د هغه انکار بولي خو ژورنالیست او لیکوال برهان الدین کشککي، چي د هغه وخت د زیاتو تاریخي پېښو عیني شاهد دی، لیکي چي نادرخان د خوست د بشورش له پیل کېدلو څخه ډېرمخکي له امان الله خان سره د ځینو اختلافاتو په اساس استعفی کړې وه. نادرخان د ۱۹۲۲ کال د ډسمبر په میاشت کې، یعني د خوست له بشورش څخه څه باندې یو کال مخکي اعلیحضرت امان الله خان ته په خپله استعفی کې لیکلي وه چي له یوې خوا ناروغ دی او له بلي خوا د هغه په حکومت کې داسي کسانو ځای نیولی دی چي دی د هغوی له افکارو او اعمالو سره نه سي جوړېدلای. کشککي ص ۲۶۲

لیکوال د امان افغان د پنځم کال د شپږمي ګڼي د شپږم او اووم مخ په حواله لیکي چي اعلیحضرت امان الله خان د ۱۳۰۲ ( ۱۹۲۳) کال د کب د میاشتي په اته ویشتمه یوې غونډې ته په وینا کې محمدولي خان د حربیې د وزیر په حیث وټاکی او نادرخان یې په فرانسه کې د مختار وزیر په توګه مقرر کړ. هغه کتاب ص ۲۶۹

نادرخان د امان الله خان د وینا په جواب کې وویل چي بلي ما له څه وخته راهیسي ستاسي له حضور څخه غوښتي دي چي ما په بهر کې یوه ماموریت ته ولېږی. حتی که لویه وظیفه نه وي په یوه دفتر کې په سرکاتبي او کاتبي هم قانع یم. هغه کتاب ص ۲۷۱

نادرخان څو میاشتي په کابل کې د فرانسي اګریمان ته منتظر پاته سو؛ په دغه وخت کې د هغه مشر زوی محمدطاهر، چي په فرانسه کې یې زده کړې کولې، وفات سو او نادرخان فرانسي ته حرکت وکړ. فریزر تېټلر هم د محمد نادر خان د استعفی علت د امان الله خان د اصلاحاتو له پروګرام سره د هغه مخالفت بولي او لیکي« کله چي نادرخان په ۱۹۲۴ کال کې له کابل څخه د فرانسي پر لور حرکت کاوه نو پیش بیني یې وکړه چي د امان الله خان بېړني او بېځایه اصلاحات به ډېر ژر د ده او د ده د هیواد د بربادی سبب سي. په فرانسه کې چي یې له دوستانو او ملګرو څخه هر رپوټ تر لاسه کاوه د ده نظر او اندېښنه یې تاییدوله؛ تر څو په ۱۹۲۶ کال کې یې حوصله ختمه سوه او د سفارت له وظیفي څخه یې هم استعفی وکړه او د فرانسي جنوب ته وخوځېدی» تېټلر ص ۲۲۵

کله چي امان الله خان په ۱۹۲۸ کال کې د اروپایي هیوادونو په سفر روان سو نو نادرخان او د هغه ورونو سردارهاشم خان او سردار شاه ولي خان له هغه سره د ناپل په ښار کې وکتل. نادرخان د همدغي لیدني په ترڅ کې امان الله خان ته وویل چي د افغانستان اوسني اجتماعي او سیاسي حالات د هغه ژورو اصلاحاتو ته تیار نه دي او د خلکو رسوم او رواجونه د هغه بېړني او افراطي تغییرات نه سي منلای. نادرخان ونه سو کړای چي خپل نظریات په امان الله خان ومني، ځکه نو د فرانسي جنوب ته ستون سو او هیڅ ډول اعزازي او رسمي مقام یې ونه مانه؛ او وروسته یې نو وطن ته د ستنېدلو په باب د اعلیحضرت امان الله خان امر ته هم غاړه کښې نه ښوده. سنځل ص ۱۸۷

امان الله خان په دې پوهېدی چي د هغه د اصلاحاتو له پروګرام سره مخالفتونه موجود دي؛ ځکه یې نو له شوروي اتحاد، فرانسي، ایټالیې او حتی انګرېزانو څخه په زرهاوو توپکونه او توپونه، په میلیونو مرمی او جنګي الوتکي رانیولي. شوروي منابع لیکي امیر امان الله خان ښایي دې وسلو زړه ورکړی وو چي په هیواد کې د ښورښونو سره سره یې د اروپایي هیوادونو اوږده دوره پیل کړه؛ په داسي حال کې چي هغه، په هیواد کې د ښورښونو د کرارولو لپاره، تر عصري وسلو یوه منظم او

وفادار پوځ ته اړتيا درلوده او وروستيو پېښو وښودله چې د عصري وسلو ترلاسه کولو د منظم او وفادار پوځ لرل مشکل دي. تيخانوف ص ۱۹۷

اعليحضرت امان الله خان خپل د اصلاحاتو پروګرام په خپل جوش او خروش تعقيب کړ. هغه د اروپايي هيوادونو او د اسيا د پرمخ تلليو هيوادونو د ليدلو او په نوره نړۍ د خپل هيواد د پېژندلو او خپل هيواد ته د ګټورو پروژو د راوړلو لپاره د ۱۹۲۷ کال د ډسمبر په مياشت کې په داسې حال کې سفر پيل کړ چې د هيواد په ټولو برخو، په تېره بيا مشرقي، کې د اصلاحاتو د پروګرام سره د مخالفتونو او په شمالي سيمو کې د څرګند بغاوت نښې ليدلې کېدلې او د شوربازار حضرتانو او محافظه کارو ديني عالمانو د هغه پر ضد پټې دسيسې رواني کړې وې. امان الله خان له دې نسبتا اوږده سفر څخه تقريبا اووه مياشتې وروسته هيواد ته ستون سو. امان الله خان خپل د اصلاحاتو پروګرام ته ځکه زور ورکړ چې هغه د خپل وطن له ترقي او پرمختګ سره بې کچه او لېونۍ مينه درلوده. هغه د اکتوبر پر پنځمه د لويې جرګې څلورمې غونډې ته په وينا کې وويل« زه انقلابي پاچا يم، او آرزو مي دا ده چې د هيواد د ژوند په هره برخه کې انقلاب راولم. هر څوک چې زما سره همکارۍ کولو ته تيار نه دی استعفی دې وکړي. په مجلس کې يوازې عبدالرحمن لودين پورته سو او خپله استعفی يې وړاندې کړه » آدمک ص ۱۳۷

خان عبدالغفار خان په پېښور کې د پښتنو يوې غونډې ته وويل « انقلاب د سېلاب په څېر دی. له هغه څخه ځيني قومونه ګټه اخلي او ځيني پکښې ډوب سي. هغه ملتونه چې ويښ دي؛ د ورور والي، دوستی او په ملي روحيه کار کوي، هغه له انقلاب څخه ګټه پورته کوی. هغه ملت چې دا خصوصيات نه لري د سېل اوبه يې له ځان سره وړي.... ما اورېدلي دي چې امان الله خان به ويل زه د پښتنو انقلابي پاچا يم. په حقيقت کې هغه په موږ کې انقلابي روحيه ايجاد کړه. بې له شکه موږ د هغه له انقلاب څخه تر افغانانو زياته ګټه واخيستله. ځکه چې افغانان ويده ول او موږ ويښ وو...» تندلکار ص ۵۸

ويده ملت د امان الله خان د اصلاحاتو او وطن پالني په چيغو را ويښ نه سو بلکه د ملت د داخلي او بهرني دښمنانو تبليغاتو ته يې غوږ ونيوی. د هيواد په هره برخه کې اوربل سو. وطن سره تبی سو. امان الله خان نه د روغې جوړې د خبرو لپاره لايق او صادق ملګري درلودل او نه يې داسې غښتلی پوځ درلود چې د جنګ په ميدانونو کې دفاع ورڅخه وکړي. امان الله خان د شينوارو، مومندو او ورسره قبايلو د ښورښ د ځپلو لپاره، چې په وروستيو شپو کې يې ډېر زور اخيستی وو او د حکومت د جبه خانو د لوټلو له لارې يې په زرهاوو توپک او توپونه تر لاسه کړي او د ياغي جنګياليو شمېر يې څلوېښتو زرو تنو ته رسېدی، له هري وسيلې څخه کار واخيست. هغه په کابل کې د شوروي سفارت له پوځي آتشه څخه د ۱۹۲۸ کال د نومبر پر نهه ويشتمه وغوښتل چې شوروی اتحاد دي په عاجله توګه دوولس سوه خوشه اي بمونه، دوولس سوه اوراچونکي بمونه او شپږ سوه کيمياوي بمونه وربانديې وپلوري. د روسيې د کمونيست ګوند د مرکزي کمېټې سياسي دفتر د ډسمبر پر دريمه فيصله وکړه چې پر افغانستان دې دوه زره څلور سوه خوشه اي او اور اچوونکي بمونه وپلورل سي ، البته د کيمياوي بمونو له ورکولو څخه يې معذرت وغوښت. تيخانوف ص ۲۰۱

دا وخت اوبه تر ورخ اوښتي وې. يوازې د شينوارو ښورښ نه وو چې حکومت يې کمزوری او بېچاره کړی وو؛ بلکه په شمال کې د حبيب الله کلکاني ښورښ دونه زور اخيستی وو چې په لږو شپو کې، کابل ته څرمه، د خيرخاني کوتل ته ورسېدي .

اعليحضرت امان الله خان نور په ځان کې د مقاومت کولو توان ونه ليدی او بالاخره يې، د ۱۹۲۹ کال د جنوري پر څوارلسمه، استعفی وکړه او مخ پر کندهار رهي سو. د کابل تخت يې خپل مشر ورور عنايت الله خان ته وسپاره. عنايت الله خان هم درې ورځې وروسته د جنوري پر اووه لسمه استعفی وکړه او په کندهار کې له خپل ورور سره يو ځای سو. کابل د سقاوي داړه مارانو د قدرت ميدان سو .

د امان الله خان په مقابل کي د بنوربنونو د زور اخيستلو او ستونزو د زياتېدلو او له قدرت څخه د هغه د استعفی کولو څخه وروسته هم ده پخپله او هم د ده طرفدارانو د ستونزو او بنوربنونو پره د برتانيي پر امپراطوري اچوله او ويل به يي چي دا ټولي ستونزي د هغوی د دسيسو محصول دي. په داسي حال کي چي د شوروي اتحاد مورخين وايی چي په دې برخه کي يي حتی د مستقل هند په آرشيفونو کي هم داسي سند نه دی ترلاسه کړی چي دا وښيي چي د امان الله خان د سقوط علت د انګليسي استخباراتو د توطيو نتيجه وي. مګر دا منابع وايي چي انګرېزانو په بشپړه خوښي د دې اصلاحات غوښتونکي پاچا د نسکورېدلو ننداره کوله او له هغه سره يي مرسته ونه کړه. هغه کتاب ص ۲۰۳

په دې کي هيڅ شک نسته چي انګرېزان به د امان الله خان په سقوط خوشاله ول؛ ځکه چي اعليحضرت امان الله خان، د قدرت څخه مخکي او د قدرت په دوران کي، نه له انګرېزانو سره دښمني او نه له روسانو سره دوستي پټوله. هغه د ژوند تر پايه پوري د انګرېزانو دښمن پاته سو او حتی که يي د هند له آزادي غوښتونکو سره مرستي نه وي کړي نو لرترلره په تبليغاتو کي يي د هغوی ملاتړ کاوه. د امان الله خان معاصر انګرېز منصبدار او مورخ آرتر سوينسن خپله خوښي نه پټوي او ليکي:

برتانيه د امان الله خان په نسکورېدلو د زړه له کومي خوشاله وه؛ ځکه چي هغه له ډېره وخته د انګرېزانو د سترګو اغزی وو. هغه د انګرېزانو د فارورډ( پر مخ تللو) پاليسی څخه کرکه کوله او قبايل يي لمسول. په ۱۹۲۳ کال کي خبره دی حال ته ورسېده چي وايسرا له افغانستان سره د ډيپلوماتيکو اړيکو د شلولو ګواښ وکړ. په ورپسي کال اوضاع يو څخه کراره سوه ځکه چي د امان الله خان د ښځو د تعليم او تربيي پروګرام له داسي ستونزو سره مخامخ سو چي نيژدي وو له قدرته وپرزول سي. په ۱۹۲۴ کال کي په خوست کي د ډېر سخت بنوربن سره مخامخ سو؛ او لمن يي د کابا تر جنوب پوري ورسېده او د ده قدرت يي سخت کمزوری کړ. مګر هغه د خپلو توندو اصلاحاتو له پروګرام څخه وانه ړاوه او نتيجه دا سوه چي په ۱۹۲۸ کال کي حبيب الله بنوربن وکړ. امان الله د جنوري پر ينځمه په ډېر تلوار خپل اصلاحات لغو کړل مګر هغه وخت هيڅ نه کېدل او ډېر ناوخته وو. امان الله خان په لسو ورځو کي قدرت خپل ورور ته، چي زړه نا زړه وو، وسپاره او کندهار ته وتښتېدی. د مارچ په مياشت کي نادرخان ( د برتانيي له هر ډول مرستي پرته) د افغانستان خاوري ته ننووت؛ او تر ډېر ځنډ او شکستونو وروسته کابل ته ورسېدی. هغه د اکتوبر پر شپاړسمه د نادرشاه په نوم پاچا سو.

که څه هم چي برتانيي په ډېر احتياط، حتی د نامعقوليت تر پولي پوري بې طرفي وساتله او په وضع کي يي له مداخلي کولو څخه خان وژغوره، مګر کارونه بالاخره لکه دوی چي غوښتل هغسي پای ته ورسېدل. نادرخان يو ښه عسکر او غښتلی سړی وو او ډېر ژر يي په هيواد کی ثبات ټينګ کړ. هغه د قبايلو په سيمه کي،لکه څرنګه چي تمه کېدله، هغسي دوستانه پاليسي اختيار کړه. او تر دې لا مهمه وه چي د شوروي اتحاد څخه يي مخ واړاوه. شوروي اتحاد له ۱۹۲۶ کال څخه وروسته په څرګنده په هند کي د برتانيي د قدرت د پرزولو او له هند څخه د برتانيي د ايستلو لپاره فعاليت کاوه. نادرشاه خپلو ستونزو مايوسه نه کړ او تر ۱۹۳۰ کال پوري هر څه پر لار سوه. د روسيي څخه وېره ختمه سوه، په کابل کي کراري سوه او په سرحد کي آرامي منځته راغله» سوينسن ص ص ۳۰۷-۳۰۸

د لمړی برخی پای

نور بيا

**** **** ****

اعليحضرت محمد نادر شاه (فصل اول)

jahani_a_bahri_s_m_moh_nadershah_۱.pdf